مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۱۱/۲۳

# وربښمين ليکونه

په کابل کي د هند د آزادی لپاره په موقتي حکومت کي داخله وزير مولوي عبيدالله سندي، د خپلي ډلي د فعاليتونو په باب نسبتاً مفصل رپوټونه د ژړو وربښمو پر دسمالونو باندي وليکل او په حجاز کي يې مولانا محمودحسن ته د لېږلو په نيت خپل يوه محصل ملګري عبدالحق ته وسپارل چي مولوي عبدالرحيم سندي ته يې ورسوي. عبدالحق دا ليکونه د انګرېزانو يوه اجنټ خان بهادر رب نواز خان ته ورکړل. ليکونه د انګرېزانو لاسته ورغلل او مؤقتي حکومت او په خټک کي يې د هند د آزادی لپاره د اسلامي تحريک ډېر لوی رازونه انګرېزانو ته افشاء سول. څرنګه چي دا ليکونه د وربښمو پر دسمالونو ليکل سوي وه ځکه نو په وريښمينو ليکونو مشهور سول. په دې باره کي مي د هند د آرشيف ځيني رپوټونه تقريباً ټکي په ټکي ترجمه کړي دي. زه يقين لرم چي لوستل به يې ټولو افغانانو په تېره بيا د تاريخ شاګردانو ته په زړه پوري وي.
دا رپوټ د هند د جنايي استخباراتو د آمر مرستيال V. Vivian د ۱۹۱۶ کال د ډسمبر پر اوومه ليکلی او په جده کي يې د زايرينو د چارو مسوول کرنل ويلسن Colonel C. Wilson ته لېږلی دی. د مکتوب نمبر يې . No 3923/X1 دی. د وي ويان نور مکتوب زموږ په درد نه خوري او راساً موضوع ته داخلېږو.

هغه دسيسه چي اوس د وربښمينو ليکونو په نامه يادېږي، د ۱۹۱۶کال د اګسټ په مياشت کي زموږ لاسته د څو ليکونو د لوېدلو څخه، چي زموږ دښمنانو له کابل څخه په حجاز کي زموږ مخالفينو ته لېږل، رسوا سوه. دا درې ليکونه وه چي پر ژړو وربښمو باندي کښل سوي وه.
د دې اوسنی وضع په باره کي د پلټنو سر د ۱۹۱۵ کال پيل ته رسيږي. د همدغه کال د فبروري په مياشت کي د پنجاب د مختلفو پوهنځيو څخه تقريباً پنځه لس تنه شاګردان وتښتېدل او شمال لوېديځي صوبې ته ولاړل. په دوی پسي نور شاګردان هم، په يکړ ډول او يا د وړو ډلو په توګه، وتښتېدل. وروسته د اطلاعاتو څخه څرګنده سوه چي دوی ټول په هند کي د برتانيې له واکمنی سره مخالف ول. په لومړي سر کي فکر کېدی چي دا کسان د هغو خلکو د تبليغاتو تر اغېزې لاندي راغلي دي چي په لومړي نړی وال جنګ کي د ترکيې طرفداري کوي. د دې ځوانانو نيت دا وو چي د برتانيې تر کنټرول لاندي خاوري څخه ووزي او ځانونه د ترکيې حکومت ته وسپاري او هغه چي له دوی څخه د جهاد په لاره کي هر ډول ګټه اخيستلای سي ورڅخه وايې خلي. دا نو د ترکيې د حکومت خوښه ده چي له دوی څخه د جاسوسانو، پيغام وړونکو، د جهاد لپاره د مبلغينو او که د عسکرو په توګه ګټه اخلي. دوی غوښتل چي د افغانستان د حکومت په مرسته به ځانونه ترکيې ته ورسوي. ځکه دوی فکر کاوه چي د افغانستان حکومت ښايی په نن اوسبا کي، د ترکيې په ګټه، له برتانيې سره جنګ اعلان کړي. د ۱۹۱۵ کال له تحقيقاتو دا هم څرګنده سوه چي دغه شاګردان په پنجاب او صوبه سرحد کي د وهابيانو په مرسته تښتېدلي دي. دغه محصلين وروسته د بونير د مستقلي سيمي وهابيانو، يا هندوستاني مجاهدينو، وروسته آزادو علاقو ته رسولي دي.
وهابيزم په هند کي: وهابيزم ، د نونسمي پېړۍ په لومړيو لسيزو کي، له سعودي عربستان څخه هند ته راغی. (۱)
د دې لاري موسس، سيداحمدشاه خپله طريقه د ګنګا په وادي کي وړاندي کړه او وروسته پخپله له څو تنو پيروانو سره، په ۱۸۲۳ کال کي، صوبه سرحد ته ولاړ او د يوسفزيو په سيمه کي يې د مجاهدينو ډله تاسيس کړه.
۱: هندي مجاهدين، له سعودي عربستان او وهابيت سره چنداني اړه نه لري. په دې ارتباط ما، څو کاله مخکي، په افغان جرمن آنلاين کي، يو مفصل مضمون خپور کړی دی. دوستان کولای سي هغه مضمون، چي عنوان يې « سيد احمد برېلوي او هندوستاني مجاهدين » دی، او په پنځه قسمته کي خپور سوی دی، ولولي. جهاني

دا ډله له هغه وخته موجوده ده او په هند کي د کفارو د سلطې پر ضد جنګېږي. دوی په اصل کي په صوبه سرحد کي د سيکهانو د سلطې پر ضد، چي په هغه وخت کي يې پنجاب په لاس کي وو، خلک را وپاڅول. دې ډلي ته له هغه وخته د هند وهابيان مالي مرستي اوجنګيالي برابروي. سره له هغه چي دې ډلي له انګرېزانو سره د جنګ په ميدانونو کي شکستونه کړي دي او په هغو قبايلي سيمو کي چي د برتانيې طرفداري کوي، په سياسي لحاظ تعقيب


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

سوي دي، مګر تر اوسه يې دوام کړی دی. په هند کې وهابي تحريک له ۱۸۶۵ څخه تر ۱۸۷۲ کال پورې ډېر زور واخيست او په هغو کلونو کې يې له هند څخه هم زياتې مالي مرستې ترلاسه کولې او هم د جنګياليو مرسته ورسره کېدله. د وهابيانو يو شمېر مهم مشران ونيول سول او داسې فکر کېدی چې دا تحريک خفه کړه سو. له هغه وخته د وهابي عقايدو خاوندانو ځانونه په مختلفو نومونو ( اهل حديث، غيرمخلد، فيروزي ) او نورو نومونو بللي دي. او ډېر ژر په هند کې د وهابي په نوم ډلې له منځه ولاړې. وهابيان په صوبه سرحد کې هم ډېر کمزوري سول او په وروستيو شپو ورځو کې خو يې چا چنداني پر قوت باندې حساب نه کاوه. خو په ۱۹۱۰ کال کې يې بيا سر راپورته کړ او حتی په کابل کې يې د برتانيې پر ضد ډله فعاله کړه او د هند افراطي عناصرېي هم تحريک کړل او هم يې پيسې ورکړې.

## په کابل کې د محصلينو د حرکت اهميت:

همدغو محصلينو دغه ډله، د ۱۹۱۵ کال د فبرورۍ په مياشت کې، له پنجاب څخه د تېښتېدلو په وسيله، بېرته را ژوندۍ کړه. د هغوی په برخه کې سمدستي پلټنې ځکه ونه سوې چې له اسلامي عقايدو سره يې ځانونه تړلي وه او په اوسنيو شرايطو کې د هغوی پر ضد عمل کول له پاليسی سره سر نه خوړ. يو څو تنه، چې د دې فعاليتونو سره يې اړه درلوده ونيول سول مګر په دې برخه کې کافي ژور تحقيقات ونه سول او دا څرګنده نه سوه چې دا پخپله د وهابيانو هلې ځلې دي او که يو بل طاقت د وهابيانو له تنظيم څخه د ښورښونو د لمسولو او پان اسلاميزم د رڼغ پورته کولو لپاره کار اخلي.

## مولوی عبيدالله د تحريک د مشر په حيث:

نسبتاً تازه څرګنده سوه چې د دې وروستيو حرکاتو محرک کوم بل طاقت دی او د محصلينو د لمسولو او مهاجرت کولو مشري د مولوي عبيدالله پر غاړه ده. هغه د ابوالکلام آزاد، چې د پان اسلاميزم يو مشهور مولوي دی، په ملګرتوب او د ځينو وهابيانو په ملاتړ له دغو محصلينو سره مالي مرستې وکړې او دغه وروستی حالت يې منځته راووړ. مولوي عبيدالله د پنجاب د ايالت يو مسلمان سوی سيکه دی، چې د ديوبند په مدرسه، سهارنپور او اتارپردېش کې يې زده کړې کړي دي. کله چې له اسلامي زده کړو څخه فارغ سو نو سند ته ولاړ؛ هلته يې دوولس کاله تېر کړل؛ د نفوذ خاوند سو او د افراطي اسلام د عقايدو ښوونځي يې تاءسيس کړې. دی وروسته ديوبند ته ستون، هلته استاد سو او د جمعيت الانصار يا د ديوبند د پخوانيو محصلينو يوه ټولنه يې منځته راوړه چې ظاهراً بې آزاره تنظم ښکارېدی خو په حقيقت کې همدغه تنظيم وو چې د دغه اوسنيو ښورښونو د لمسونو لپاره جوړ سوی وو. کله چې مولوي عبيدالله د ديوبند په مدرسه کې استاد وو نو د مولانامحمودالحسن په شمول يې ځيني استادان د برتانيې دښمنان کړل. په هغوی کې محمودالحسن ځکه مهم وو چې هم د ديوبند د مدرسې مشر وو او هم ډېر لوی عالم وو، او په وروسته کې يې نوم د ورېښمينو ليکونو په قضيه کې را ميدان ته سو. مولوي عبيدالله، له استادانو سره د عقايدو د سخت اختلاف له کبله بالاخره له مدرسې څخه وايستل سو. په ۱۹۱۳ کې يې په ډهلي کې هستوګنه غوره کړه او هلته د رامپور له محمدعلي سره، چې د « ملګري » په نوم خپروني چلوونکی او د ترکيې ډېر ټينګ طرفدار وو، نيژدې ملګری سو. عبيدالله دغه راز په ډهلي کې د « نظارت المعارف القرآنيه » په نوم يو عربي مکتب تاسيس کړ او تازه اطلاعات ښيي چې همدغه مکتب د پان اسلاميزم د عقايدو او لمسونو مرکز سو.

## آزادو قبايلو ته د مولوي سيف الرحمن ماموريت:

د ۱۹۱۵ کال د جون په مياشت کې د ډهلي د فتح پور د جومات مدرّس مولوی سيف الرحمن يو ناڅاپه ورک سو او وروسته معلومه سوه چې هغه د صوبه سرحد د آزادو قبايلو سيمي ته تللی دی. مولوي سيف الرحمن ډېر ژر د ترنګزيو له حاجي صاحب سره، چې پخپله د پېښور په علاقه کې يو سخت افراطي مذهبي سړی وو، ملګری سو. ده د ترنګزيو حاجي صاحب دی ته وهڅاوه چې د صوبه سرحد دوره وکړي او خلک د جهاد لپاره راپورته کړي. مولوي سيف الرحمن په خپل کار کې بريالی سو او د ۱۹۱۵ کال د اګست په مياشت کې يې ځيني ناکراری منځته راوړې چې ځيني هندوستاني مجاهدين پکښې ووژل سول او دغه راز وروسته په صوبه سرحد کې ځيني ناکراری منځته راغلې چې مشرتوب يې د ترنګزيو حاجي صاحب کاوه. که څه هم چې په هغو شپو ورځو کې معلومه نه وه خو وروسته څرګنده سوه چې مولوي سيف الرحمن ته هم دغه ماموريت مولوي عبيدالله ورسپارلی وو، چې د ورېښمينو ليکونو د دسيسې تر ټولو مهم سړی وو.

د ۱۹۱۵ کال د جون په مياشت کې، مولوي عبيدالله هم له سترګو نيهام سو او له هغه وخته بيا چا د برتانيې تر کنټرول لاندې هند کې نه دی ليدلی. مولوي عبيدالله سند ته ولاړ؛ هلته يې څو مياشتې تيرې کړې؛ له خپلو زړو ملګرو سره يې خبرې وکړې او څه موده وروسته له څو تنو سره د کندهار له لارې ، د ۱۹۱۵ کال د اکتوبر په مياشت کې، کابل ته ورسېدی او وروسته د ترکيې او جرمني له هغه هيات سره يو ځای سو چې مهيندراپراتاپ او مولوي برکت الله يې مشري کوله. مهيندراپراتاپ او برکت الله د برلين او استانبول له لارې، د جرمني د کيزر او د



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

ترکيي د سلطان ليکونه ورسره اخيستي وه او په ليکونو کي د افغانستان له پاچا څخه پر هند باندي د حملي کولو غوښتنه سوې وه. په کابل کي دوی له سردارنصرالله خان او د جنګ له طرفداري ډلي سره خبري وکړې. د برتانيي پر ضد هياتونه روسي ترکستان، استانبول او برلين ته ولېږل سول. په کابل کي د دغو دسيسه کوونکو او په هند کي د دوی د انډيوالانو ترمنځ ډېر زيات ليکونه تبادله سول او بالاخره د ۱۹۱۶ کال د اګسټ په مياشت کي د لاهور له يوه محصل سره، چي د پيغام رسوونکي وظيفه يې درلوده وربښمين ليکونه ونيول سول.

## حجاز ته د مولانا محمودالحسن سفر د ۱۹۱۵ کال سپټمبر:

د ۱۹۱۵ کال د سپټمبر په مياشت کي د مشهورو مولويانو دوې ډلي حجاز ته ولاړې. داسي آوازه سوه چي دوی هجرت کړی دی او د هجرت علت يې د حکومت سره سخته دښمني ده. داسي آوازه هم وه چي دوی غواړي په حجاز کي د ځينو ترکي مقاماتو سره خبري وکړي. مګر داسي دقيق اطلاعات نه وه چي د هغه په اساس دوی په هند کي را ګرځول سوي وای. دوی د بمبيي له لاري د يوې احساساتي په مخه ښې سره حرکت وکړ.مولوي خليل احمد او د هغه ډلي د ۱۹۱۵ کال د سپټمبر پر اتمه او مولانا محمود الحسن د سپټمبر پر اته لسمه حجاز ته وخوځېدی. وروسته د ۱۹۱۵ کال په مني او د ۱۹۱۶ کال په پسرلي کي د دواړو ډلو يو څو تنه بيرته هند ته ستانه سول. له دوی يوه سر هم چا غرض ونه کړ تر څو چي د مولوي عبيدالله د وريښمينو ليکونو دسيسه رسوا سوه او له هغه سره د مولانا محمودالحسن ارتباط کشف سو.

د دي دسيسي غړي « الجنود الربانيه » يا د خدای تعالی عسکر بلل کېدل. د خدای په دې پوځ کي هر چا خپل نظامي مقام درلود. د دوی اصلي مرکز د مديني ښار وو او هلته مولانا محمودالحسن د قايد مقام درلود. نور مرکزونه يې استانبول، تهران او کابل وه. په کابل کي مولوي عبيدالله وو چي جنرال بلل کېدی.

د دي پوځ هدف د کفاوروترلاس لاندي هيوادونو، چي مشخص هدف يې برتانيه وه، د آزادولو له پاره د اسلامي هيوادونو د پاچاهانو وحدت منځته راوړل وو. مولانا محمودالحسن بايد د حجاز له لاري د عثماني ترکيي له حکومت سره په تماس کي سوی وای او هغه حکومت يې دې ته هڅولی وای چي داسي شرايط منځته راوړي چي له برتانيي سره د افغانستان د جنګ د اعلانولو سبب سي. د کابل دفتر هم وظيفه درلوده چي بايد په افغانستان کي د برتانيي ضد ډلو سره تماسونه ونيسي او دغه راز آزاد قبايل له برتانيي سره په دايمي دښمني کي وساتي. په هند کي دوی وظيفه درلوده چي د وهابيانو د زړې ډلي په وسيله له خلکو څخه پيسي غونډي کړي او په کابل، حجاز او هند کي د برتانيي پر ضد فعاليتونه تمويل کړي او په عين وخت کي د هند په مسلمانانو کي افراطي اسلام تبليغ کړي او چي هرکله د افغانستان او هند ترمنځ جنګ ونښلي دوی به په يوه ځل سره لمبه جوړه کړي. د پوځ د صاحب منصبانو يو ليست هم له هدايتونو سره ملګری وو او له هغه ليست څخه دابشکارېدله چي د دې دسيسي ټول پلان په مولوي عبيدالله اړه لري. صاحب منصبان پر ځلورو ډلو وېشل سوي ول. د مولوي عبيدالله د افراطي اسلام ملګري، د ده پيروان او په سند او د هند په نورو ځايونو کي د هغوی خپلوان او اشنايان. دوهمه ډله د ديوبند، اتارپردېش او د ډهلي مولويان چي مولوي عبيدالله، د ديوبند په مدرسه کي د استادی په وخت کي او وروسته د ملګرتوب له لاري تر خپل نفوذ لاندي راوستلي وه. دا هغه کسان ول چي له ده سره يې د « جماعت الانصار» او «نظارت المعارف القرآن » په ډلو کي کار کړی وو. دريمه ډله په بيهار، اتارپردېش، پنجاب او شمال لوېديځه صوبه کي د پيسو را ټولولو وهابي کسان. ځلورمه ډله د افراطي اسلام مشهور مشران ول.

جنودالربانيه يا د خدای تعالی پوځ بايد له دوهم تنظيم ، په هند کي موقتي حکومت، سره يو ځای سوی وای چي مشر يې مسلمان نه وو بلکه ميهندراپراتاپ وو، صدراعظم يې مولوي برکت الله او د هند لپاره وزير يې مولوي عبيدالله وو. د دې تنظيم هدف دا وو چي د افغانستان او هند ترمنځ يو ټکر منځته راوړي او په عمومي صورت له دښمن او يا له بېطرفه قوت سره دسيسه وکړي او افغانستان ته د هندي ورانکارو څخه جوړ هياتونه ولېږي. عبيدالله غوښتل چي د توندرو مسلمانانو، مولويانو او وهابيانو څخه يوه ګډه قوه جوړه کړي. ده غوښتل چي د اسلامي تحريک د پاځولو ترڅنګ د هند د موقتي حکومت په دسيسه کي ببله برخه ولري او په دې توګه د هندوانو انقلابي عناصر د ځان کړي.

## په حجاز کي د مولانا محمود الحسن فعاليتونه:

د وربښمينو ليکونو کشفېدل د دې سبب سول چي د محمود الحسن د ډلي کسان تر نظارت لاندي ونيول سي چي له حج څخه را ستانه سوي ول. د هغوی له ويناو څخه موږ ته په حجاز کي د مولانا د حرکاتو په برخه کي يوه مفکوره را پيدا سوه. کله چي دی له هند څخه روانېدی نو هيچا دا ګومان نه کاوه چي مولانا به په دونه لوی پروګرام کي برخه ولري. موږ فکر کاوه چي مولانا به ايله له ځينو ترکي مقاماتو سره وګوري او هغوی ته به ووايي چي هند ته پوځونه ولېږي او يا له افغانانو سره مرسته وکړي چي پر موږ باندي حمله وکړي. د ده او د مولوي خليل احمد ډلي په حجاز کي سره يو ځای سوې مګر دا يقيني نه وه چي مولوي خليل احمد د دې دسيسي په ټولو اسرارو خبر دی او يا د دواړو ډلو ټول غړي، په مساوي توګه، په دسيسه کي برخه لري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

مولانا محمودالحسن یقینا د حجاز له والي غالب پاشا سره په دسیسو لګیا وو مګر داسي نه ښکاري چي غالب پاشا به هغه د دې نقشي عملي کولو ته تشویق کړی وي. غالب پاشا وویل چي ترکان په نورو سیمو کي ډېر سخت مصروف دي او نه افغانستان ته مرستي لېږلای سي او نه هند ته پوځونه. خو ده مولانا ته د جهاد فرمان ورکړ او مولانا هغه د خپلي ډلي د یوه غړي محمود میا په لاس، چي د ۱۹۱۵ کال د جنوري په میاشت کي هند ته ستون سو، واستاوه. ویل کیږي چي هغه په آزادو قبایلو کي مذهبي خلک وپارول او له دغه فرمان څخه یې ډېره ګټه واخیستله. دا فرمان ډېر زیات کاپی سو او په ټول هند کي خپور سو.
فکر کیږي چي هم مولانا محمود الحسن او هم مولوي خلیل احمد په حجاز کي له جمال پاشا او انوربیګ سره په ۱۹۱۶ کي کتلي دي مګر د هغوی د خبرو په باره کي څه اطلاع نسته. مولوي خلیل احمد د ۱۹۱۶ کال د سپټمبر په میاشت کي هند ته ستون سو او مولانا محمودالحسن او د ده د ډلي څو منتخب کسان په حجاز کي پاته سول. او اوس هم په مدینه کي دي. محمود الحسن یو وخت له حجاز څخه استانبول ته د تللو نیت درلود مګر موږ فکر نه کوو چي تللی به وي. دی تر دې وروستیو شپو ورځو کي لا په مکه کي وو. ( دا رپوټ د مولانا محمود الحسن له نیول کېدلو او د مالټا ټاپو ته له لېږل کېدلو څخه مخکي لیکل سوی دی. جهاني )
په یوه بل لیک کي، چي له کابل څخه، په اُردو ژبه، لېږل سوی دی. د لیکل کېدلو او لېږل کېدلو نېټه نه لري. خو څرنګه چي له مخکنیو کرښو څخه څرګندیږي چي په هند کي د انګریزي مقاماتو لاسته ورغلی دی نو سړی ویلای سي چي په یوه وسیله به لېږل سوی او د وربښمینو خطونو په څېر به د دښمن لاسته ورغلی وي. دا لیک په ډېر میده خط لیکل سوی او ضمنا یې رنګ دونه پیکه دی چي چنداني د لوستلو نه دی. خو څرنګه چي د جنودالربانیه د تشکیلاتو په باره کي دی نو د لړي برخي لوستل یې هم بې ګټي نه دي.

## الجنودالربانیه

یعني لشکر نجات. مسلم اسوسیېشن آرمي.
مقصد: اتحاد دول اسلام ــ
مرکزاصلي: صدر مقام جنرل. مدینه طیبه
مرکزثانوي صدرمقام ـــ قسطنطنیه، طهران، کابل.
مرکزدرجه سوم صدرمقام لیفټینیټ جنرال ـــ د کفارو تر اثر لاندي اسلامي دولتونه.
منصبونه پر لسو ډولونو دي:

| مربی / د جنودالربانیه سرپرستان | تعداد ماتحتان | مشاهره | امتیاز خرچ ماهوار |
|---|---|---|---|
| ۱ ـ مربی | | | |
| ۲ ـ مردمیدان فیلډ مارشال افسرکل | | | |
| ۳ ـ سالار (جنرال) افسرکل | ۱۰۰ پوند | ۱۰۰۰ پوند | |
| ۴ ـ نایب سالار لیفټینیټ جنرال | ۱۲۰۰۰ | ۵۰ یا ځلوېښت پونډه | ۲۴۰ پونډه |
| ۵ ـ معین سالار میجرجنرال | ۳۰۰۰ | ۲۰ پونډه | ۶۰ پونډه |
| ۶ ـ ضابط ( کرنل) | ۱۰۰۰ | ۱۰ پونډه | ۲۰ پونډه |
| ۷ ـ نایب ضابط (لیفټینیټ کرنل) | ۵۰۰ | ۵ پونډه | ۱۰پونډه |
| ۸ ـ دوصد باشي ( میجر ) | ۲۵۰ | ۴ پونډه | ۵ پونډه |
| ۹ ـ صد باشي ( کپتن ) | ۱۰۰ | ۳ پونډه | ۲ پونډه |
| ۱۰ ـ پنجاه باشي (لیفټینیټ) | ۵۰ | ۲ پونډه | ۱ پوند |

## منصبداران جنودالربانیه

الف مربي ـــ السلطان المعظم خلیفته المسلمین ـ سلطان احمد شاه قاجار ایران ـــ امیر حبیب الله خان کابل.
ب مرد میدان [ انورپاشا، ولیعهد دولت عثمانیه، وزیراعظم دولت عثمانیه، عباس حلمي پاشا، شریف مکه معظمه، نایب السلطنه کابل، معین السلطنه کابل، نظام حیدرآباد، والي بهوپال، نواب رامپور، نواب بهاولپور، رئیس المجاهدین ]
ج: جنرال یاسالار ـــ [ سلطان العلماء حضرت مولانا محدث دیوبندي مد ظل العال، قایم مقام سالار کابل مولانا عبیدالله ]
د: نایب سالار [ مولانا محی الدین صاحب، مولانا عبدالرحیم صاحب، مولانا غلام محمد صاحب بهاولپور، مولانا تاج محمد سندی، مولوی حسین احمدخان مدني، مولوي حمیدالله صاحب، حاجی صاحب ترنګزی، ډاکټرانصاري، حکیم عبدالرزاق صاحب، ملاصاحب بابړه، مولوي ابراهیم کاموي، مولوی محمدمیا، حاجي سعیداحمد.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

په همدغه ليک کي وروسته، د کابل د موقتي حکومت چي دوی پروېژنل ګورنمنټ آف انديا ورته ليکي يو څه تفصيل ورکوي. له ليکني څخه يې ښکاري چي د حکومت رييس راجا مهيندراپراتاپ ته ډېر زيات اهميت نه ورکوي او وايي چي يو هندوستانی رييس مهيندراپراتاپ د بندرابن اوسېدونکی دی او د آريون ډلو سره خاصه اړه لري. دی نسل پر نسل د هندوستاني راجه ګانو له سلسلي دی. تېر کال له جرمني څخه کابل ته راغلی دی. هلته يې د جرمني له قيصر سره کتلي او د هند د مشرانو په نوم يې يو ليک او د کابل د امير په نوم يې يو ليک راوړی دی.....

وي ويان، د ورېښمينو ليکونو په اساس ، په حجاز کي د مولوي خليل احمد او مولانا محمود الحسن د دوو ډلو هغه غړي معرفي کوي چي له دوی سره په حجاز کي اوسېږي او د انګرېزانو پر ضد ګډ فعاليتونه کوي. دا کسان څه باندي څلوېښت تنه دي. او زه فکر نه کوم چي د لوستونکو لپاره به د دونه زياتو اشخاصو معرفي، چي ټول د هندوستان اوسېدونکي وه، د علاقي وړ وي. په دې اړه به نورو ټلګرامونو ته ولاړ سو.

د هند وايسرا د ۱۹۱۶ کال د ډسمبر پر يوويشتمه په مکه او قاهره کي خپلو دفترونو ته ليکي چي که نامطلوب کسان له حجاز څخه ايستل کيږي نو هغوی بايد د هند پر ځای په مصر کي توقيف سي او د جنګ تر پايه پوري هلته وساتل سي. وايسرا ليکي چي مولانا محمودالحسن هم ډېر سپين ږيری دی او هم په هند کي د ډېر قوي مذهبي مقام خاوند دی نو موږ ته به د هغه راالېږل مطلوب نه وي. بهتره به دا وي چي دی او نور ملګري يې هند ته نه بلکه کوم بل ځای ته ولېږل سي.
د هند د وايسرا د خارجي چارو د څانګي دفتر د ۱۹۱۷ کال د جنوري پر ديارلسمه د قاهري دفتر ته ليکي:
محرم: ستاسي د جنوري د اوومي ټلګرم را ورسېدی. له حجاز څخه يوه را ستون سوي سړي رپوټ راکړی دی چي د مکي شريف مولانا محمود حسن له مکي څخه ايستلی دی او مولانا د حاجيانو په بله کښتی کي هند ته را روان دی. موږ دا مهمه بولو چي محمود الحسن بايد، په اوسني وخت کي، هند ته را ستون نه سي. تاسي هدايت درکول کيږي چي هرکله محمودالحسن له حجاز څخه روان سي هغه بايد يا په مصر او يا په مالټا کي توقيف سي.
د مصر دفتر د جنوري پر ديارلسمه په ۳۹ لمبر ټلګرام کي ليکي:
د هند نا مطلوب کسان له جدې څخه مصر ته ايستل سوي دي او دوی به بالاخره مالټا ته واستول سي. دا کسان:
مولاناحسن، مولوي حسين احمد، هزارګل، وحيدالدين، حکيم نصرت او حسين. د دوی ډله له نورو کسانو سره شلو تنو ته رسيږي. د هند اينسپيکټر شيخ د جنوري پر دوولسمه جدې ته روان سو. په عدن کي به کښتی تبديله کړي او هند ته به روان سي.
د مرکزي استخباراتو دفتر د ۱۹۱۸ کال د مي پر نهه ويشتمه د مالټا دفتر ته د مسټر برن په عنوان، چي د محمودالحسن د قضيي په باب تحقيقات کوي په No. 4138-A.C.No.9. لمبر ليکي چي ستا دا خبره بالکل پر ځای ده چي مولانا محمودالحسن بايد په مالټا کي پاته سي. او په دغه اوسنيو شرايطو کي موږ هغوی په هند کي نه سو زغملای.
په مکتوب کي راغلي دي چي دا به ستا لپاره له دلچسپی خالي نه وي چي په ډهلي کي د محمودالحسن او نورو بنديانو د خوشي کېدلو لپاره د تبليغ په منظور يو دفتر پرانيستل سوی دی او دوی وايي چي مولانا بله هيڅ ګناه نه ده کړې او صرف د مکي د شريف هغه فتوا يې نه ده ورسره لاسليک کړې چي غوښتل يې د خپل بغاوت لپاره دليل وتراشي. پر شريف باندي خلک له دې امله سخت په غوسه دي چي محمودالحسن يې انګرېزانو ته تسليم کړی دی. حکومت د اوضاع د کرارولو په باره کي غور کوي.
محمودالحسن څه باندي يوکال په مالټا کي له خپلو ملګرو سره بندي وو او په يوه ټلګرام کي راغلي دي چي مولانا ته د ورځي درې روپۍ خرڅ او نورو ملګرو ته يې د ورځي يوه روپۍ او شپږ آني حواله دي. بالاخره د وايسرا د داخلي چارو دفتر د ۱۹۱۸ کال د ډسمبر پر دريمه وليکل:
« اوس چي ترکيه تسليم سوې ده نو فکر کيږي چي د ترکيي د طرفدارۍ په تور د بندي سويو مسلمانانو خوشي کېدل امنيت ته کوم خطر نه پېښوي. په دې اساس نو موږ فکر کوو چي مولانا محمودالحسن ته، چي د مالټا څخه د ۱۹۱۷ کال د نومبر د مياشتي پر دوولسمه يې يادونه سوې ده، بايد اجازه ورکړه سي چي هند ته ستون سي. دی د ورېښمينو ليکونو د دسيسي په ارتباط نيول سوی وو. هغه په دغه ارتباط حجاز ته سفر کړی وو او هلته يې د ترکيي له مقاماتو سره هم کتلي وه. د هند ټول هغه مسلمانان چي ده ته د قدر په سترګه ګوري او ده ته اخلاص لري بايد دا د مهرباني يو عمل وګڼي. د ده نور ملګري به هم له ده سره يو ځای هند ته ولېږل سي او يوازي حسين احمد مدني څکه له دې امر څخه مستثنی دی چي هغه وايي د ترکيي تابعيت لري. زموږ نظر دا دی چي مولانامحمودالحسن بايد په ډېره آرامه او بې سروصدا توګه هند ته راستون کړه سي او د هغه د هرکلي لپاره بايد مراسم ونه نيول سي. اوس لازمه ده چي هغه هر څونه ژر ممکنه وي خوشي سي. دې خبري ته د مالټا د ګورنر خاصه توجه را اړوو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که څه هم چي د  مولانامحمودالحسن او د هغه څلورو یا پنځو ملګرو د خوشي کولو په برخه کي فیصله د ۱۹۱۸ کال د ډسمبر په میاشت کي صادره سوې وه خو د ۱۹۱۹ کال تر اوړي پوري لا نه وو خوشي سوی ځکه چي د همدغه کال د مارچ پر یوویشتمه د هند د وایسرا د داخله وزارت دفتر مالټا ته، په یوه محرم مکتوب کي، لیکلي دي چي په دې تازه شپو ورځو کي یو بشپړ نوی انکشاف دا دی چي د فرنګي محل اوسېدونکي عبدالباري یوه فتوا صادره کړې ده او وایي چي د مکې شریف یاغي دی او ټول مسلمانان مکلف دي چي له اسلامي هیوادونو څخه غیرمسلمانان وباسي او بیرته د خلیفه قدرت پکښي ټینګ کړي. موږ په یقین سره ویلای سو چي دا تحریک به بریالی نه سي مګر که دلته  مولانا موجود وي نو ښایي چي دغه ته ورته لمسوني وکړي. موږ په ټینګه په دې عقیده یو چي هند ته دي د هغه لیږل وځنډول سي. موږ د مالټا له قوماندان څخه غواړو چي په هره پلمه کېدلای سي مولانا هلته وساتي. موږ یقین لرو چي تاسي به هم زموږ سره په یوه نظر یاست. که څه نوی انکشاف کېدی موږ حتما اطلاع درکوو.»

د وربښمینو لیکونو د پېښي په باب د افغاني مورخینو نظر:

زیاتره افغاني مورخین په دې عقیده دي چي د  مولانا عبیدالله سندي له خوا ترتیب سوي وربښمین لیکونه، چي د هغه د جنودالربانیه ډېر زیات اسرار پکښي راغلي وه، د انګرېزانو جاسوسانو هغوی ته وسپارل. او مرحوم غبار خو د هندي مهاجرو محصلینو یو مشر الله نواز، چي په وروسته کي د افغانستان په حکومت کي ډېر لوی سړی سو او یو وخت په برلین کي د افغانستان سفیر وو، د انګرېزانو جاسوس بولي. خو د هندي محصلینو د یوه بل مشر ظفرحسن آیبک له خاطراتو څخه ښکاري چي دا لیکونه په تصادفي توګه د انګرېزانو لاسته لوېدلي دي. ظفرحسن د مولانا عبیدالله سندي ډېر نیژدې ملګری، شاګرد او مخلص وو او حتي د انګرېزانو پر ضد یوه اعلامیه کي خو د مولاناسندي تر څنګ د هغه لاسلیک هم لیده کیږي. ظفرحسن وایی په لومړي سر کي دوی هم داسي ګومان کاوه چي الله نواز او د هغه ورور شاه نواز به دا لیکونه په لوی لاس انګرېزانو ته سپارلي وي خو وروسته ورته ثابته سوه چي دا کار یوازي د یوه خراب تصادف محصول وو. ظفرحسن لیکي:

« په دې ورځو کي  مولاناصاحب مرحوم غوښتل چي حضرت شیخ الهند ته په کابل کي د خپلو فعالیتونو په باب رپوټ ورکړي. مولانا دغه رپوټونه پر وربښمینو ټوکرانو باندي ولیکل او غوښتل یې چي هغه، په هندوستان کي، شیخ عبدالرحیم حیدرآبادي ته، چي په سند کي اوسېدی، ورسوي.

د دې کار لپاره شیخ عبدالحق، چي تازه مسلمان سوی وو، او د الله نوازخان د پلار خان بهادررب نوازخان په کور کي لوی سوی وو، وټاکل سو. هغه ته هدایت ورکړه سوی وو چي دا لیکونه شیخ عبدالرحیم ته ورسوي څو هغه یې د یوه اعتباري حاجي په لاس حضرت شیخ الهند ته حجاز ته ورسوي او که اعتباري سړی پیدا نه کړي نو پخپله دي حجاز ته سفر وکړي.

عبدالحق سند ته روان سو او د خپلي کورنۍ د لیدلو لپاره په ملتان کي له اورګاډی څخه کښته سو او د الله نواز خان له پلا ر خان بهادر رب نواز خان سره یې ولیدل. رب نواز به حتما ملتان ته د هغه د ورتللو په باره کي پوښتنه ورڅخه کړې وي او عبدالحق به هغه لیکونه وربښکاره کړي وي.

رب نواز خان د خپلي خوش خدمتی په خاطر هغه لیکونه، د خپلي غوړه مالۍ د یوه مهم ثبوت په توګه، انګرېزانو ته وسپارل. د هند حکومت د دغو لیکونو په اساس ډېر زیات مسلمانان ونیول او دا پروژه ناکامه سوه. عبدالحق د دې خوش خدمتی په بدل کي د پولیسو په اداره کي استخدام سو او خان بهادر رب نواز هم بې نصیبه پاته نه سو.

دا خبره تر اوسه نه ده ثابته سوې چي آیا عبدالحق کابل ته د راتللو له هغي لومړۍ ورځي د انګرېزانو جاسوس وو او یا دا چي رب نواز خان به هغه تهدید کړی او دا کار به یې کړی وي.» ص ص ۱۴۲-۴۳

مرحوم میرغلام محمدغبار، د عمر تر پایه، الله نواز خان ته سخت بدبین وو او هغه یې د انګرېزانو جاسوس باله. مرحوم غبار لیکي چي د نادرخان د حکومت په لومړیو شپو ورځو کي په کابل کي په لاهوری دروازه کي زموږ په کور کي د روشنفکرانو غونډه وه او په هغه غونډه کي فیض محمدباروت ساز وویل « د دې نوي رژیم د پېژندلو لپاره دا یوه خبره کافي ده چي موږ د کابل د فتح کېدلو په لومړۍ ورځ د جنوبي د حمله کوونکو په مخ کي دوه تنه د انګرېزانو هندوستاني مخبران الله نواز او شاه جي ولیدل چي له شاه ولي خان او شاه محمود خان سره اوږه پر اوږه روان ول او تاسي باید پوه سی چي له دې وروسته به د افغانستان حکومت د هندوستانیانو په لاس کي وي. او د پردیو د تسلط پر ضد مبارزه چي تر هر نامه لاندي کیږي د افغانستان د ځوانانو لومړنۍ او ورستني وظیفه ده »
غبار افغانستان درمسیر تاریخ جلد دوم ص ص ۳۸-۳۹

دا خبره باید په یاد ولرو چي دغه هندي محصلین، الله نوازخان او د هغه ورور شاهنواز خان، ظفرحسن او د هغوی نور شل پنځه ویشت ملګري هم په پوهنځیو کي ډېر ممتاز شاګردان ول او هر یوه یې ډېره ښه آینده په مخ کي درلودل او زیاتره له نسبتاً شته منو کورنیو څخه ول. د ظفرحسن له خاطراتو څخه ښکاري چي هغوی څو تنه سپېڅلي تنکي ځوانان ول چي د انګرېزانو د تسلط پر ضد را ولاړ سوي ول. په قرآن یې سوګند سره کړی وو او افغانستان ته د دې لپاره راغلي ول چي د دې هیواد پاچا او حکومت د انګرېزانو پر ضد جهاد ته تشویق کړي او که افغانستان له انګرېزانو سره جنګ نه کوي نو دوی ته دي ترکیې ته د تللو زمینه برابره کړي څو هلته د ترکیې په



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پوځ کي ودريږي او وجنګيږي. د ظفرحسن له خاطراتو څخه ښکاري چي دې ځوانانو، تر جلال آباد پوري، څه باندي يوه مياشت، په غرونو او دښتونو کي، پياده مزلونه کړي او داسي خوارئ ورباندي راغلي دي چي د يوه عادي انسان تر حوصلې او زغم وتلی کار دی. کله چي کابل ته رسېدلي دي نو د امير حبيب الله خان حکومت هم ښه سلوک نه دی ورسره کړی او تقريباً څلور کاله يې په ډېرو خرابو شرايطو کي نظر بند ساتلي دي. نه يې له چا سره د ليدلو اجازه ورکړې او نه يې بهر ته د وتلو اجازه درلوده او حتی د دوی له مشر او استاد عبيدالله سندي سره هم داسي سلوک سوی دی چي د هغه له شانه سره نه ښايېدی.
دې ځوانانو تر پايه حوصله او اميد له لاسه ورنه کړ. څو تنه يې د امير حبيب الله خان له نظر بندی څخه وتښېتدل او ځانونه يې آزادو قبايلو ته ورسول او ځيني يې تر پايه پاته سول او د امان الله خان، نادرخان او ظاهرخان په حکومتونو کي يې ماموريتونه غوره کړل.الله نواز خان ډېر لايق ډيپلوماټ وو او هر وخت يې د افغانستان د ګټو څخه دفاع کوله.
لودويک آدمک د هغه پاره کي ليکي: « د افغانستان په حکومت کي، په مختلفو ځايونو کي د هندي مهاجرينو ټاکل کېدل د هند د حکومت پر مزاج ښه نه لګېدل. دوی خصوصاً، د دربار د وزير په حيث، د هند د يوه پخواني انقلابي الله نواز خان له ټاکل کېدلو سره مخالف ول. الله نواز د پنجاب د صوبې د ملتان په ښار کي زېږېدلی وو او افغانستان ته له تښتېدلو څخه مخکي يې په لاهور کي زده کړې کړې وې او هلته د هند د انقلابيونو له ګوند سره يوځای سوی وو. د برتانيې د حکومت يوه مامور الله نواز يو بدشکله هندی مهاجر بللی وو چي هم د برتانيې او هم د روسيې مخالف وو... مګر ويلې يې وه چي هغه يو صادق او ريښتونی سړی دی او د نادرخان سخت مخلص دی. الله نواز د يو څه وخت لپاره د اتحاد مشرقي د ورځپاڼي د مسوول مدير مرستيال وو، وروسته په افغانستان کي د يوه جرمني شرکت ترجمان وو او ويل کيږي چي د نادرخان لپاره د وزيرو د ملاتړ په جلبولو کي يې ډېره برخه درلوده. آدمک ص ص ۱۸۱-۸۲
آدمک بل ځای ليکي: « کله چي د ۱۹۴۰ کال د سپتمبر په مياشت کي، په برلين کي د افغانستان سفير الله نواز خان، کابل ته له يوه سفر څخه وروسته، برلين ته ستون سو نو هلته يې د جرمني په خارجه وزارت کي له بارون وايزيکر سره وکتل او له هغه سره يې په اسيا کي د جرمني د جنګ د اهدافو په باره کي خبري وکړې. ده د نورو شيانو په لړ کي د عربانو مسله راپورته کړه او دغه راز يې په هند کي د پنځه لسو ميليونو پښتنو د آزادی مسله ورسره مطرح کړه. الله نواز خان، د نقشې په مرسته، هغه ته وويل چي د افغانستان سره به عدالت يوازې هغه وخت سوی وي چي د هغوی سرحد اباسين وټاکل سي. ده دغه راز د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ د اختلاف په باره کي له هغه سره خبري وکړې او له وايزيکر څخه يې پوښتنه وکړه چي که چيري د شوروي اتحاد او افغانستان ترمنځ جنجال پيدا کيږي جرمني له افغانانو سره مرستي ته حاضر دی کنه. ده پر دې خبري ټينګار وکړ چي که برتانيه له هند څخه ووزي هم به افغانستان د خپلې خاورې له دعوې څخه تېر نه سي. الله نواز وويل دا د راتلونکي مسله ده او ده صرف د افغانستان نظر جرمنيانو ته ورساوه. هغه کتاب ص ۲۴۶
کله چي اعليحضرت امان الله خان د افغانستان استقلال اعلان کړ او له انګرېزانو سره جنګ حتمي ښکارېدی نو مولوي عبيدالله سندي، د هند د خلکو لپاره، د هندوستان د موقتي حکومت له خوا، په انګليسي او اوردو ژبو يوه اعلاميه وليکله، چي مولانا عبيدالله د داخله وزير او ظفرحسن د هند د موقتي حکومت د سکرتر په حيث لاسليک کړه، او د کابل په مطبعه کي يې چاپ کړه. مولانا د دغې اعلاميې متنونه خپلو دوو ملګرو محمدعلي، چي د مولانا وراره وو، او الله نواز، ته ورکړل چي په هند کي يې د مسلمانانو مشرانو ته ورسوي. ظفرحسن ليکي چي دوی دواړو په هند کي يوه مياشت تېره کړه او په خيريت سره بيرته کابل ته را ورسېدل. محمدعلي دغه اعلانونه تر حيدرآباد پوري رسولي وه او الله نواز د مولانا صاحب دوستانو ته تر پنجاب پوري ورسول. ظفرحسن ليکي چي له دغه کار څخه د الله نواز صداقت څرګنديږي او دا ثابته سوه چي هغه د عبدالحق په غداري کي لاس نه درلود. ځکه چي که دی هم له لارې منحرف وای نو دا اعلانونه به يې د انګرېزانو مقاماتو ته ورکړي وای او هغوی ته به يې د افغانانو له عزم او جنګي تياريو څخه اطلاع ورکړي وای. ظفرحسن ص ص ۱۷۵-۷۶
دا چي الله نوازخان په دومره خطرناکو حالاتو کي، چي د انګرېزانو حکومت، له کلونو راهيسې د هغه د نيولو تلاښ کاوه، تر پنجاب پوري د هند د موقتي حکومت د اعلاميو رسولو ته حاضر سوی دی ښيي چي هغه نه يوازې خپل آرمان ته صادق سړی وو بلکه ډېر زړه ورسړی هم وو.
يوه لنډه يادونه:
په افغانستان، پښتونخوا او هندوستان کي د پرديو پر ضد تحريکونه څه باندي درې سوه کاله سابقه لري. خو يوه ټکي ته د خپلو لوستونکو توجه را اړوم هغه دا چي په افغانستان کي د پرديو او استعمارګرانو پر ضد د مبارزې او جګړې رهبري معمولا د خانانو، پاچاهانو، سردارانو او شهزاده ګانو په لاس کي وه. په افغانستان کي د پرديو او کفارو پر ضد جنګونه له ميرويس نيکه څخه واخله او بيا د افغان او انګليس تر لومړي جنګ، دوهم جنګ او دريم جنګ پوري ټول پاڅونونه او جنګونه د قومي مشرانو او جنرالانو په لاس کي وه.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په خير و لولـئ

په پښتونخوا کي د پرديو پر ضد هر وخت مقاوتونه موجود وه خو رهبري يې د خانانو او سردارانو پر ځاي د پيرانو په لاس کي وه. د سيکهانو په مقابل کي د سيد احمدبرېلوي تحريک، چي وروسته يې د انګرېزانو په مقابل کي د شلمي پېړۍ تر نيمايي پوري دوام ورکړ. د انګرېزانو په مقابل کي د سوات د اخوند صاحب او سيد اکبر شاه تحريک، په وروسته کي د هډې د ملاصاحب ، سرتور ملنګ، ملاپوونده، د بابړي ملاصاحب، د ترنګزيو حاجي صاحب، ملا کربوغه او په وروسته کي ميرزا علي خان يا ايپی فقير، چي د انګرېزانو پر ضد يې جهاد اعلان کړ او د هغوی له وتلو څخه وروسته يې د پنجابيانو پر ضد د شلمي پېړۍ د شپېتو تر لسيزي پوري جنګ ته دوام ورکړ؛ ټول روحانيون ول. دې هر يوه د کرامت او ولايت دعوه درلوده او مريدانو يې هم تبليغ کاوه چي ښرا او زور ته يې توپونه او ټانکونه ټينګېدلای نه سي. خانان يې له نفوذ او زور او عوام يې له ښرا ببرېدل او د هر جنګ رهبري د دوی پر غاړه وه. خانانو او ملکانو به رول درلودلی وي خو تاريخي شواهد ښيي چي د سوات د اخوند صاحب له تحريک څخه نيولې، د سيداحمد برېلوي تر تحريک او وروستيو پاڅونونو پوري خانان زياتره خرڅ سوي او په تحريک کي يې درز اچولی دی.
په هندوستان کي، چي له يوې خوا قبيلوي سستم وجود نه درلود چي څوک په قومي مشرانو پسي ولاړ سي او مسلمانانو يې دونه پوهه درلوده چي د پيرانو او ملنګانو مريدانو نه سوای غولولای. هغوی د خپلو مشرانو څخه منطق، دليل او حقايق غوښتل. نو د جهاد رهبري د لويو مذهبي علماوو، چي ديني او سياسي پوهه دواړه ورسره وه، په لاس کي وه. مخکي مو وليدل چي د انګرېزانو پر ضد د مسلمانانو ټول تحريک د مولويانو له خوا رهبري کېدل. حتی  مولانا ابوالکلام آزاد هم چي د مسلمانانو يومشر وو، خلک ځکه ورپسي تلل چي له نامه سره يې مولانا ليکل کېدی.
خو په هند کي، د انګرېزانو پر ضد د هندوانو تحريک، چي سر يې اته لسمي پېړۍ ته رسيږي، له لومړي سره د سياسي مشرانو په لاس کي وو. البته د دې خبري يو مهم دليل دا دی چي د هندو مذهب پنډتانو او برهمنانو هيڅ وخت په سياسي مبارزو کي برخه نه ده اخيستې. د هندو مذهب لويو رهبرانو راما نندا، رامانوجا، بهګت کبير، ګرونانک، شنکراچاريا او نورو ټولو مذهبي مشرانو د انسانيت او عمومي ورور ګلوۍ حتی د مذهبونو د يووالي لپاره مبارزه کوله او په سياست کي يې برخه نه اخيستله. په هند کي قبايل او خانخاني موجوده نه وه چي خلک يې په خانانو او شهزاده ګانو پسي تللي وای. له بلي خوا يې هم زوړ تمدن درلود او د سواد کچه پکښي لوړه وه او له انګرېزانو سره ژوند او خدمت هغوی ته د انګرېزي ژبي د زده کړي او له عصري علومو سره د بلديت زمينه برابره کړې وه. ځکه يې نو د پر مختلليو اروپايي هيوادونو په څېر عصري او منظم حرکت وکړای سوای.
دا موضوع يو څه زيات تحقيق او څېړني ته ضرورت لري. خدای دي وکړي چي ځوان محققين توجه ورته وکړي.

## ماءخذونه


۱: آيبک، ظفرحسن. افغانستان از سلطنت امير حبيب الله خان تا صدارت سردار محمدهاشم خان. ترجمه و تحشيه فضل الرحمن فاضل. چاپ دوم، بنګاه انتشارات ميوند ۲۰۰۳.
۲: غبار، ميرغلام محمد. افغانستان در مسير تاريخ جلد دوم. تاريخ تحرير ۱۹۷۳ تاريخ طبع ۱۹۹۹ ويرجينيا.
3: Adamec,Ludwig W. Afghanistan’s Foreign Affairs to the Mid-Twentieth Century. U.S.A. 1974




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ